سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۱/۰٦/۰۹

# د افغانانو تاريخ، د دولتونوسياست او د پښتني ټولني ارزښتونه

(لومړی برخه)

## سريزه :

افغانستان د خپل ستراتژيک موقعيت له امله تل د نړيوال سياست د ليوالتيا مرکز ګرځيدلي دی.
په آسيا کې د افغانستان جيوستراتژيک موقعيت د فارس اوعربو خليج، مرکزي آسيا، چين او د هند نيمي وچې ترمنځ د سيمه يزو او نړيوال زبرځواکونو لپاره ځښت ډير مهم لامل دی چې دوی په خپلو کولونيالستي، امپرياليستي يرغلګر و تورو پلانو کې په بيلا بيلو نومونو د نړی ډيره ارزښتناکه سيمه افغانستان ته ځای ورکوي. نړيوال يرغلګر زبرځواکونه افغانستان ته د آسيا د نيواک، زبيښاک او ښکيلاک دکلی په څير ګوري.
په نولسمه پيړی کې انګريزان، په شلمه پيړی کې شوروي اتحاد يواځيني زبرځواکونه نه وو، چې دوی په افغانستان کې خونړي تپونه درلودل او دوی مجبور کړل شول خپل تور پلانونه مخکې ترهغي چې افغانستان کولوني کړي يا کمونيستي ايديالوژی په کې خپره کړي ټول کړل. د افغانستان ورستي حکومتونه د يرغلګرو زبرځواکو او سيمه يزو ځواکونو له خوا راوستل شوي دي، بيا دغه حکومتونه د ښکيلاکګرو، زبيښاکګرو، يرغلګرو او د ګاونديو هيوادو د شومو پلانو په ګټه او دخپل ولس د ملي ګټو په وړاندې سمبال شوي دي. لاسپوڅې ګوډاګې حکومتونه د افغان ولس غوښتنې، ملي تاريخ، ملي اراده، ملي ويارونه او اتلولي، بشري بنسټيزه حقوق، ملي ارزښتونه، ملي دودونه، کولتوري ملي ميراث، ملي هويت، مذهبي هويت ته د افغانستان ملي خپلواکې عالي احساس ته هيڅ درناوي او پام نه دی کړي. ديرغلګرو په لاس جوړ شوي حکومتونو د افغانستان په خونړي تاريخ کې برخليک ټاکوونکې اونه بښوونکې تاريخي، سياسي تيروتني کړي دي.
تجروبو ښودلي چې د سياست په ډګر کې د يوې ملکې ټولني د بری راز په انقلابونو کې نه، بلکې په ريفورمونو او په پرلپسي ډول ټوليزو بدلونو کې نغښتې دی.
افغانان دوه ډوله ملکې ټولني پيژني، يوه مډرنه ملکې ټولنه چې فعاليت نن ډير محدود دی، افغاني ملکي مدني ټولنه په ورستيو ديرشو کلونوکې بلکل لمنځه تللي ده. بله دوديزه ټولنه چې ډير اوږد تاريخ، خورا شتمن کولتور او ژوري ريښې په افغان ولس کې لري. دغه دوهمه ټولنه د افغاني ټولني د تاريخ په اوږدوکې يو شمير بشري اصول او ځانګړي انساني، ټولنيز نورمونه او ارزښتونوته وده ورکړي، دغه ټوليز نورمونه او ارزښتونه نن د افغانستان په کليوالي او ښاري ټولنه کې شتون لري. پښتونوالي يا افغانيت د افغاني ټولني ولسواکې، د وينا خپلواکي، د ولسيز ځواک ګرانټي او د افغانانو ملي وحدت سمبول ګرځيدلي ده.
د افغانستان دوه پر دريو برخې خلک قبايلي دوديزه ژوند لري، له همدې امله افغانستان يوه قبايلي دوديزه ټولنه ده. قبايلو د افغانستان په دولتونو کې يوه قبايلي دوديزه ټولنه رامنځ ته کړي ده. دا حتمي نه ده چې دغه دوه برخې خلک د هوسا ټولنيز ژوند او ټولنيز پرمختګ او مډرنيزم سره مخالفت لري.
په دغه ليکنه کې په لاندې ټکو باندې لږ څه رڼا اچولکيږي. د افغانانو لرغوني تاريخ، د دولتونو سياست او په څه ډول په ورستيو څولسيزوکې د حکومتونو او افغان ولس ترمنځ بسنټيز ه واټن رامنځته شوي. ولي د کابل څخه د سياسي دولتي اداري نظام يا د سياسي سيستم ريفورمونه ټول افغانستان ته او په خاصه توګه تر قبايلي ټولني پوري نه رسيږي. ولي افغان حکومتونه قبايلي افغاستان ته قبايلي ارزښتونو ته په يوه مدني دوډيزه ټولنه کې سم فکر نه کوي. ولي افغان دولتونه افغانان يې په قبيلويت کې له پامه غورځولي. ولي قبايلي ډوديزه ټولنه ډير لږ باور پر افغان دولتونو باندې لري او د افغان قبايلو غبرګون دولتونو پروړاندي په څه ډول دی.

### ۱ . دافغانانوتاريخ يواځې د نړی ديرغلګرو امپراتوريو دماتولوتاريخ نه دی

افغانانو نه يواځی خپله په سيمه کې ځواکمنې باثباته امپراتورۍ رامنځته کړي، بلکې دوی هم د نړی سياسي، اقتصادي، پوځې جګړيزو تجربو، تاريخي پيښو اود نړی د برسيرنو تاريخ ډير ځپرکې ليکلي دي.غرني افغانستان د نړی دلرغوني تاريخي يو ستر سر خلاصي په زړه پوري تاريخي موزيم دی، لکه اراخوزيا ( کندهار او کويټه ) بلخ، باختر، هري واه، غور، غزني، پکتسيا، باميان، زابلستان، سيستان، هيرمند، ټکسيله، بګرام او د کابل، ننګرهار، پيښور د ګندهارا لرغوني کولتوري ځانګې.
لرغونپوهانو د افغانستان په سمنګان کې د هزار سم په سمڅو کې تر تاريخ د مخه د مدنيت آثار موندلي. د ۲۰۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰۰ کلونو پوري د مسيحيت څخه مخکې په افغاستان کې د ډبرو پير ټکنالوجی وسايل را برسيره شوي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دي. د هندوکش په غرنو کې د وابنو او بټو داسي ټوټې یا نمونې موندل شوي دي چې دا ثابتوي افغانستان په نړۍ کې لومړنۍ سیمه د څارویو او شنه وابنو لپاره وه.
د ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ کالونو د مسیحیت څخه مخکې په لومړۍ ځل مس یا ژړ فلز په افغانستان کې وموندل شول.
د افغانستان لومړني پلازمېنه د نني لوی کندهار ښار ته نږدې د موندیګک په سیمه کې د نړۍ لومړني ښارګوټې بنسټ کېښودل شو. دموندیګک ښار اقتصادي بنسټ پر کرهنه،غنمو،اوربشو،میږو او اوزو باندې ولاړ وو. دمندیګک ښار د اریایي ولسونو د یو ولایت پلازمېنه وو .افغانستان له هغه مهاله دنړۍ د کلتورنو ترمنځ د کولتورنو په څلور لاره کې پروت هیواد دی .
د افغانستان ښارونه د لرغونو زمانوڅخه د وریښمینو لارو د سوداګریو مرکزونه وو . همال په دغه ښارونو کې اقتصادي ، ټولنیزو اود نویو شیانو تمایلات مخ پر وده وو. افغانستان ته بهرني اقتصادي او کلتوري توکې په مسلسل ډول راتلل . افغاني کلیوالي سیمي له بهرنیو اغیزو سره بیا ترننه خپل زوړځواکمن پښتني احساس، ټولنیز قبایلي ارزښتونه اوټولنیز نظم اوسیستم ساتلي دی.
د ۱۵۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ کالونو د مسیحیت څخه مخکې په افغانستان کې اریایې کوچې قومو او ولسونو شتون درلود . دوی د خپل هیواد نوم اریانا کېښود .
د ۴۸۶ څخه تر ۵۲۲ کالونو کې په لومړۍ ځل د ایران ستر داریوش د افغانستان ډیرې برخې ، لکه هرات، بلخ، د ګندهارا ستر او ځلانده کلتوري سیمې کابل، ننګرهار او پېښور، غزنې،سیستان، ګویټه او کندهار دخپلې امپراتوري تر اغیزې لاندې راوستي . په دغو سیموکې په مسلسل ډول د داریوش په وړاندې ولسې پاڅونونه او ډیرې سختي خونړې جګړې پیل شوي او بلاخره افغانانو دپارس د داریوش ستري امپراتورۍ ته د کندهار او کویټې په منځکې سخته ماته ورکړه .
له ۳۲۶څخه تر ۳۲۹ کالونو د مسیحیت څخه مخکې کله چې افغانستان پر پارس امپراتورۍ باندې برۍ وموند،بیا مقدوني سترسکندر له ۳۲۳ څخه تر ۳۵۶ کالونو د مسیحیت څخه مخکې افغانستان اشغال کړو. ده هڅه وکړه چې خلک تر خپلې ولکې لاندې راولي ، سکندر هم د افغانانو ولسې پرلپسې سر سختو پاڅونو په ترڅ کې مات شو.
د مسیحیت څخه ۵۰ کاله ورسته د کنشکاه پادشاه په مشرۍ د کوشانیانو سلسله رامنځته شوه او ورسره د افغانانو د ګندهارا ستر کلتور د خپل ځلانده شتمنې لوړې کچې ته ورسیده .
د مسیحیت څخه ۵۵۰ کاله ورسته پارسیانو بیا د افغانستا ن ځیني برخي لاندې کړو .
افغان تاریخ ته په کتوسره له ۵۵۰ کاله د مسیحیت څخه را په دېخوا د ایرانیانو یرغلګرې جګړې او د افغانانو دفاعې جګړې، بیا په ۱۷۹۵ او په ۱۸۳۲، ۱۸۳۳ کالونو کې د ایرانیانو له خوا د افغانستان خراسان ولایت ونیول. په ۱۸۰۵کال کې د افغانانو سرسخته مقاومت دایرانیانو په وړاندې د هرات له ښار څخه په میړانه دفاع کول. د جګړو تاریخ دا ښیي چې د افغانستان په لودیځ کې ګاوندې هیواد زموږ سره ترننه ژوره سیاسي، تاریخي، جغرافیایي، مذهبي او کولتوري دښمنۍ لري.
په ۱۸۳۴ کال کې دافغانستان په سهیل کې سیکانو دافغانستان ښار پیښور لاندې کړ و، افغانانو د وزیر اکبر خان په مشري سیکانو ته په جمرود کې دجنرال هرې سنګ دووژل سره سم سخته ماته ورکړه.
افغانستان په ورستیوسلو کالونو کې پنځه ځله د نړیوالوزبرځواکونو دیرغلونو سره مخامخ شوي دی. په نولسمه او شلمه پیړۍ کې افغانستان د بهرنیوزبرځواکونو هیوادو دلوی لوبې دلوبو ستډیوم وګرځیدو. د ۱۸۳۸ څخه تر ۱۹۱۹ کالونو پوري افغانانو دري ځله د انګرېزانو له امپراتوري سره دفاعې او د خپلواکې دګټلو لپاره جګړې کړي دي.
افغانستان د انګرېزي امپراتوري او د روس د تزار ي امپراتوري دجګړو ډګر وګرځید،افغانان یې په ډیره ظالمانه او ناروا ډوګه نه یواځې سره وویشل بلکې افغانستان خپل ستراتجیک سیمې لکه پیښور،کویټه اوسمندري لار یې په موقت ډول له لاسه ورکړي. د ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۹ کالونو کې افغانستان د سړې جګړي له امله د پخوانې شوروي اتحاد له یرغل سره مخامخ شو . د دوهمې_نړیوالي جګړې څخه ورسته د انګرېزانو او روسانوامپراتورېو جګړې په مرکزي آسیا کې دوام درلود،بیا ورسته دا جګړه د پخواني شوروي اتحاد سیال متحده ایالاتو له خوا پرمخ بیول کیده . د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د وومې نېټې څخه را په دې خوا افغانستان د متحده ایالاتو او انګرېزي ځواکو له یرغل سره مخاخ دی . د زبرځواکو هیوادو یرغلګري جګړې د افغان ولس له سخت مقاومت سره مخامخ شوي دي . دا ظالمانه او د هر نړیوال قانون او نورم خلاف یرغلونه یې د چریکې جګړو له لارې ګټلي دي او یرغلګرځواکونه یې له افغانستان څخه وتلو ته مجبور کړي دي.
په افغانستان کې ډیرو یرغلګرو پوځونوخپل مړه او ژوندي علایم پریښي دي. لکه یونانیانو، عربو، منګلولیایانو، مغلو، هندوانو، سیکانو، ایرانیانو، انګریزانو، د روسانود ورسا تړون غړي هیوادونه او د امریکایې ناټو تړون غړې هیوادونه چې شمیر یې له څلویښتو څخه ډیر دي، په افغانستان کې همداوس فعال حضور لري.
افغانان یوه بېساري او بې کچه مینه له خپلواکې ،له خپل برخلیک ټاکنې او له خپل ملي ویښ کولتور سره لري، ځکه چې بهرنیانو څو ځله له دوی څخه دا لوړ ملي ویاړونه ارزښتونه په زرو او ظلم سره اخیستلي دي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دخپلواکي سره دغه ټینګه مینه او کلکه اراده د دې لامل هم شوي چې افغانان په خپلو قبیلو او قومونو کې ځانونه خپلواک احساس وي اوقبیلویت ته مخه کړي تر هغه چې یو واحدځواکمن ملت ته مخه کړي.
په نولسمه پیړۍ کې مسوول انګرېزي جګپوړیو پوځیانو،انګرېزي سیاستپوهانو او ورسته انګرېزي تاریخپوهانو دا یي نه شوه تشرح کولي ،چې څنګه دسرکښو پښتانو بې نظمه خپلواکي ډلې یواځې په توروسمبال دبرتانیي نړیوال تجربه لرونکي، په وسلوسمبال ، دنوم او ښان پوځونو فوتوحات په ټپه ودروي . په ۱۸۴۲ کال افغانانو د افغان او انګلیس لومړۍ جګړه کې انګرېزانو ته په نړیواله کچه ښساری ماته ورکړي . د انګرېزانو په ستر ګو کې دغه سر کښه خپلواک پښتانه ډېر ژر په توریالي جنګیالیو بدل شول، لکه دستر سکندر د زړور سرتیرو په شان ورته ولیدل شول. انګرېزانو ته د ستر سکندر سرتیرو څخه ورسته د افغان ارياېي ولس سرتیرو په لومړۍ ځل له شرمه ډګه ماته وکړه. دنړۍ په تاریخ کې دافغانانو برۍ لکه د جرمنیانو برۍ د روم پر امپراتوري باندې ستایل او لمنځل شوي دی.
په ۱۸۱۵ کال کې یو بل انګرېزي افغانیکوه یا افغانستان پلټوونکې ښاغلي الفیستون په خپل ستر استندرد اثر کې په نامه «د افغانانو سیاسي او ټولنیز اورګانیزيشن »دی د کتاب په یو برخه کې د پښتونو په اړه داسي لیکي. د پښتونوقومونو له انارشي ډکه خپلواکي او اړیکي د سکاټلندي قومونو یا دیوناني رومي جمهوري غوښتونکو قومونو او ولسونو په څیرده، لیکوال پښتانه له دغو اروپايي ولسي قومي جوړښتونو سره په یوه کچه پرتله کړي دي. ده په خپل اثر کې د افغانانو او د ځینو اروپايي قومونو د میراني، اتلولي او خپلمنځي اړیکي په ډېر ښه ډول سره پرتله کړي دي.
افغان شاعرانو او لیکوالانو دافغانانو د ننګیلیتوب ،توریالیتوب اتلولي ښکلي انځور ونه په خپلو لیکنو، شعرونو او لنډیوکي کښلي دي . دغه لیکني او اثار ډېر زر په افغان ولس کې خپارشوي او په ولس کې له ډېر ګرانښت سره مخامخ شوي دي ، لویدیځوال لیکوالو کله چې د انګرېزانو د پوځې ماتي په اړه لیکلني کړي ، دوی له همدې زړه کښوونکي له میراني او اتلولي ډکو افغاني اثارو څخه پخپلو اثارو کي هم کاراخیستي دی .په همدي پوهنیزوادبي ګډو چاروکي د افغانانو د شخصیت او کرکټر یو ایډیال انځور نړیوالو ته وړاندي شوي دی . په دغه اثاروکي دپښتون حماسي انځور بیا د دودیزه قومي سیستم پښتونوالي سره یو ځای ګډ ښودل کیږي . نړیوال له دې لارې هم دافغانانوله توري ،میراني ، اتلوالي او ایډیالوجیک فکر سره مخامخ او اشنا شوي دي .

## ۲. دافغان دولتونوځواک او سیاست

په ۱۷۰۷ کال کې هوتکیانو د میرویس نیکه په مشري د یوې لويې جرګې څخه ورسته د صفوي دولت د ظلم ګورګین په وړاندي یا ځون وکړو او د هوتکیانو دولت رامنځته شو. د همدې دولت پر بنسټ
په ۱۷۴۷ کال کې د لوی ټولواک ستر احمد شاه بابا له خوا د محاصر افغانستان بنسټ کیښودل شو. په اتلسمه پیړۍ کې د افغان دوراني امپراتوري د اسلامي نړۍ د یوې ستري امپراتوري نړیوال تاریخ لیکلي دی.
په ۱۹۷۳ کال د پادشاهي پر تاج باندې د یو شمیر پرلپسي جګروسره سره د دوراني امپراتوي د سلسلي ورستي پادشاه دملت بابا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پادشاهي ته د پای ټکي کیښودل شو .
له کله نه چې په نولسمه پیړۍ کې دافغاني مډرن دولت بنسټ ایښودلي شوي دی، دافغانستان د دولتونو سیاسي ځواک پر دوو برخو باندې متمرکز شوي دی، له یوې خوا یو مرکزي باثباته خپلواک دولت ،له بلې خوا دولت هڅه کړي خپل ټولنیز سیاسي ځواک له پلازمینه څخه بهر په کلیوالي او قبایلي سیمو کې ټینګ کړي .په خواشیني سره د دولت سیاسي لاس د پلازمېني څخه ټول افغانستان ته وونه رسیدو. په کابل او څو نور ستر ښارونه کې نسبي دولتي اداري سیستم شتون درلود، نور ۹۰ سلنې افغان ولس په قبایلي کلیوالي چاپیریال کي بوخت او خپل ژوند یې پرته له دولتي ځواک شتون یا دوی سولیز ژوند پرته له دولتي قانون څخه کړي دی. دکابل په دولتونو کې د کلیوالي افغانستان یا قبایلي ټولني اراده نه په قوانیونوکي ، نه د حکومتونو دسیاست په اجنداکي تمثیلده او حکومتونو قبایلي ولس خپل برخلیک او الله (ج) ته سپارلي دي.
دکلیوالي سیمو خلکو په کابل کې حکومتونوته دپردیو او د دښمن حکومتونو په سترګه کتلي دي . حکومتونو به له دوی څخه مالیه را ټولوله او دوی به یې عسکري ته راغوښتل ، بې له دې چې حکومت په بدل کې خلکو ته د ژوندااسانتیاوې برابرې کړي او نور پرمختیایي پروګرامونه پلي کړي . دولت به د دوی له ملي منافعو څخه دفاع نه شوه کولي اوخلک مجبور ووچي پخپله خپلو سیموکي عمل وکړي .

په ټولو افغانانو کې په خاصه ټوګه په پښتونو کې د یوواحد افغان ولس یا واحد افغان ملت جوړوني فکر او احساس ډېر زور او جدي دی . څکه د نړۍ تاریخ او نړیوال سیاست پښتانه د افغانستان د دولتي ولس په څیر پیژني او د دولت فورم،دولتي ایډیالوجی،ملي یوالي اوملي دولت جوړولو مشروعیت هم دوی ته ور په غاړه کړي دی . بې له شکه له یوې خوا پښتنوننني افغانستان یې له ډېرو سختو سیاسي جګړیزو حالاتو څخه رایستلي دی،له بلې خوا په خواشیني سره د افغانانو پښتنود ځینو سیاسي مشرانو د خپل منځي اختلافاتو،قومي تربګنیو، لنډفکري ،په نړیوال سیاست اوحکومتوالي کې د لړو تجربو له امله افغانستان اوسنیو حالاتو ته هم ور ټیل وهلي دی .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ورستيو څه باندې سلوکالونو کې دلوی افغانستان ټوله خاوره دهيڅ کوم ټولواک له خواد يو واحد ملت او د دولت په اداري چوکاټ کې اداره شوي نه ده . دبيلګې په توګه د افغانستان پښتونخوا او قبايلي خاوره .
افغاني دولتونو هيڅ دعمل ځواک نه لرولو چې عدالت ،امنيت او ټولنيز ژوند خلکو ته په افغاني بڼه تامين کړي ، تر څوافغان ولس له دې لارې په خپله ځان ته مالي مرسته وکړي اوخلک ځان په دولت کې احساس کړي .افغان ولس د ورستيو درې لسيزو دولتونو ته د پردېو له خوا جوړ شوي نړيدونکې کاغذي ساختمانونو په څير کتلې دي .له يوې خوا دغو دولتونو خلک خپلو مسووليتونو ته او دخپلو رواه او نارواه غوښتونو ته اړيستل ، له بلې خوادغې دولتونو دافغان ولس هيلوته ،مدني ربنتو يا حقوقو ته، ټولنيزو تاريخي منل شويو ارزښتونو ته په عمل کې هيچ پام او درناوي نه دی کړي .له همدې امله د دولت او ملت ترمنځ هيڅ کوم تولنيز تړون تر ننه رامنځته نشو. د دولت د عمل او کاري ځواک دنه لرولو له وجهې په ټولنه کې وفاداري له دولت سره نه وو. په افغانستان کې د عمل ځواک له سيمه يزو مخورو قومي مشرانو،خانانو،سپين ږيرو او دينې علماو سره ده.
په افغاني ټولنه کې د خانانو او قومي مخور مشرانو څخه ورسته دينې علماو او ملايانو خپل ټاکل شوي ځای درلود . دوی دواړو په ټولنه کې په ګډه سره ټولنيز عدالت ، امن او نظم ساتلي وو .دينې علماو په کومه قضيه کې چې د اسلام دسپيڅلی دين سريع احکام پلې کيده، هغه يې پلې کول . په قومي جرګو کې به يې د صالح اشخاصو رول لوبه وو. په ځينو مواردو کې به ملايانوپه ټولنه کې دخانان سره سيالي هم کوله.
په افغانستان کې د ملي ايديالوجي،دملي تاريخ فلسفه دپلې کولو هڅه لاد وخته پيل شوي ده. لکه پښتونولي، ټولنيز ملي سياست،د خپلواکې جشن ،لويه جرګه،ملي بيرغ ،ملي سندره ياسرود،ملي اتڼ اوملي افغاني کالي . به له دې چې افغاني ملي تاريخي هويت ته له اسلامي مذهبي اړخه ورته مشروحيت ورکړل شي.
په افغانستان کې خانانو ددولت او سيمه يزو خلکو، قومونوترمنځ د پله ډنده درلوده . ددولت او ولس اړيکې به له همدې لارې ټينګېدي . دولت به د خلکو په ټولنيزو چاروکې مستقيمألاسوهنه نشواي کولې او يا مستقيم بدلون يې نه شو راوستلي .
افغان قومي او مذهبې مشرانو په دوديز ډول د يو خاص نظم او سيستم له لاري خپل پيوستون له افغان ولس سره ساتلو، تر هغه چې پر دولت باندې حساب وکړي.
هر څوک چې شتمني لري خان نه بلل کيږي ، بلکې خان هغه څوک دی چې د پښتنوپه ټولنه کې عقل ، مسووليت ، توره ، پښتي په خپل ځان اوفکرکې يوه کړي ،خپله شتمني له خوارولس سره شريکه کړي .
خان يا د قوم مشر په يو اځې ټوګه دخلکو واکمن نه دی،خان د ولس لمنځه لومړنی سړی دی .
د افغانستان توپوګرافيکه غرني او د درو عراضي افغانانو ته د قبيلوي ژوند شرايط هم مساعد کړي دي . يو لامل هم همدا کيداي شي چې ولې افغانان تراوسه په قبيلوي ټولنه کې ښکيل او لا پاتي دي . دوی خپل پيوستون له خپلې سيمې ،قوم، قومي مشر، سپين ږيري ، ديني علما او مذهب سره په ګروپې ډول تړلي دی، ترهغه چې دوی ديو واحد ملت په څير افغانستان کې ځان را څرګند کړي .
کله چې د افغانانو خپلواکې د بهرنيو يرغلګرو له خوا تر ګواښ لاندې راشي ، بيا په افغانانو کې ديو واحد ملت احساسات په بيړني ټوګه راژوندي کيږي ، دوی په ګډه او وروړګلوي کې پرته له قومي، سمتي، توکميزه اوژبنيزه توپيرونوڅخه دخپل ګډ پلارني هيوادافغانستان څخه دفاع اوساتنه کوي .

پښتانه په خپل منځ کې نوره دبيلوالي پولي نه پيژني،نن ټول لروبر افغان ملت را ويښ شوي ځان يو واحد ملت احساسوي او په همدې لاره کې د برې په لور روان دي .افغان قبايل له هغه مهاله چې بشر يت فکر کوي دوی په خپله پر خپل ځان حکومت کړي ،له همدې امله پښتانه په يو مرکزي مشرتابه باندې لږ عادت لري او دهيواد ملي او قضايي قوانينو دوی ته لږ ارزښت لري ،ځکه د دولتوتو له خواد دوی لرغوني دودنو او ارزښتونو ته د دولت په قوانينو کې ډير لږ پام شوي.
دافغانستان قوانين مجبور دي چې د ولس له فکرونو څخه راووځي او له هغه څه نه خبرې وکړي چې هغه قبابلي لوستي ځوان سړي ته د قانون په ويلو سره دا فکر او احساس وشي چې دغه قانون د ده له زړه او د ده د څوزرکلني ستر انساني کولتور پښتونوالي سره تړو لري . قانون بايد د ده په ژبه وي ،ځکه ژبه د حقوقي معيارنو وړونکې او د قانون د اوامرو د تطبيقولو يوه وسيله په ټولنه کې ګڼل کيږي.

د لومړی برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ